مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۹/۰۷

# د پردي ښار باران

## لنډه قصه

په کډه کې به له ښاره هر څه یوسې، خو باران بې ځنګه وړې ؟ له وریځو به اوبه په هر ځای کې تویږي، خو باران صرف په هغه ښار کې اوریدی چې دی ترې ولاړی. د باران سره ئې له پخوا څخه ډېره مینه وه. دومره، چې کله کله به ئې فکر کاوه باران له اسمانه را اوریدونکي څاڅکي نه دي، بلکه د ژوند هغه وړې قطرې دي چې د وخت له ها غاړي څخه بېرته را ستنیږي، لکه اسمان چې همدا زموږ ژوند زر ټوټې کړی وي او د رڼو، ځلېدونکو ټوټو په بڼه ئې پر مځکه شیندي.

باران ښکلی وي، اوري پر ښار ، خو په انسان کې دننه یو څه لندوي. د څاڅکو د قدمونو ږغ ئې د زړه درزا لندوي. په خپل ښار کې بې چې باران وو، ده به د کورونو برنډو ته پناه نه وړله، تر هغو لاندې به نه دریدی. کرار کرار به روان وو. پوهېدئ به چې پر کوم سرک به نري لښتي جوړیږي ، چې دی پکښې وځغلي، د کومي ونې لاندې به له لندو خاورو د مشکو بوی را پورته کېږي، لکه د مځکې د ساه وړم، چې د سینې تر غولي تېر سي. پر کوم زاړه دېوال به د باران اوبه د رګونو غوندي لاري جوړوي، او د کوم پارک پر تش زرغون بېنچ به د باران څاڅکي واړه ډندونه جوړوي، لکه د اسمان وړو سترګو چې تنکی پلوشي په غېږ کې نیولې وي.

د ښار او باران ترمنځ یوه پټه مینه وه. باران چې به پر ښار لاسونه را تاو کړه، د محبوب غوندي به د ښار ټول وجود وغوړېدی، کوڅو به ئې رنګ واخیست او دېوالونو به ئې عطرونه وشیندل. ده ته داسي ښکارېدل لکه ښار چې یوازې په باران کې خپله ژبه پیدا کوي او له باران سره پټ د مینې رازونه فقط له ده سره شریکوي.
بس، یوه ورځ مجبور سو چې خپل ښار پرېږدي.

کلونه تېر سول. دی ډېر لیري په یوه بل ښار کې اوسېدی. ښکلی، پاک، غلی ښار. پراخ سړکونه، دنګې ونې، روښانه کړکۍ، په ترتیب جوړ سوي پارکونه. خو دا ښکلاوې د ده تر سترګو رسېدې، تر زړه نه.
یو ماښام چې له دفتره راووت، ناڅاپه باران پیل سو.

ودرېدئ. څاڅکي چې پر مخ ولګېدې، شوندې ئې د مسکا په تمثیل لږ وغځېدې. تر عمرونو وروسته باران بیا لمس کړی وو. بېرته پلی روان سو.هماغه لنده هوا.هماغه یخې څاڅکې.هماغه د سړک پر غاړې د خادو ځلېدونکي ځراغونه.
هماغه له ونو څخه څڅېدونکي اوبه.
خو څو قدمه وروسته ئې موسکا ورو ورو تولله سوه.

دی د یوه پارک ځنګ ته ودرېدئ. باران پر شنو پاڼو اورېدی. مخامخ یو ښکلی بېنچ لندېدئ. لیري د کورونو په کړکیو کې ژړ ځراغونه بل وه. د دغو دنګو ودانیو په کړکیو کې ناستو د خوب د ځراغونو رڼاوو باران لیدی خو ورته کتل ئې نه.
هر څه هماغسې وه. خو ده ته هیڅ څه هم اشنا نه ښکارېدل.

ودرېدی.لاس ئې اسمان ته ونیوی. څو څاڅکې ئې په ورغوي کې سره ډنډ سول. تر ډېره ئې ورته وکتل. بیا روان سو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

له يوې کوڅې بلې کوڅې ته. له يوې لارې بلې لارې ته. اوبه ئې له وربښتانو څڅه تر غاړې را رواني وې، کالي ئې لانده، بوټونو ئې له اوبو ډک، جراپې ئې خيشتې سوې. لکه په يو شي پسې چې گرځېدی.

قدمونه ئې عقل په پردي ښار کې روان کړی ول، خو زړه ئې د خپل ښار په باران کې گرځېدی. د ده د ښار په باران کې کوڅې لندېدې.د دوی د کور بامونه لندېدل، تر ناوو لاندې به له ختو ډکو اوبو کې رنگېدی. د ملگرو د کورنو دروازې لندېدی. پر هغو څوړندې خړې پنډې پردې لندېدی. هغه پارک لندېدی چې د ځوانی بې مقصده ماښامونه ئې پکښې تېر کړې وه. هغه سړک لندېدئ چې يو وخت به د دوستانو سره په منډو کې هېڅ نه ختمیدی.
هلته باران د ده ټول ژوند لنداوه.
دلته له بارانه سره تړلې د ده هيڅ قصه نه سته.

پر کومو کړکيو چې څاڅکې ښوييږې، تر شا ئې دی هيڅ څوک نه پيژني. پر کومو لارو چې اوبه بهيږې، هلته د ده د قدمونو کومه نښه نه سته.
دی د يوه پردي کور تر برنډې لاندې ودرېدی.
مخامخ باران پرله پسې اورېدی.

په فکرونو کې ډوب سو، ښايي همدا اوس هلته هم باران وي. زړې کوڅې به لندېږې. هغه ونه به اوس هم ولاړه وي چې ريښو ئې د مشکو خوشبو خپروله. د پارک پر هماغه بېنچ به د اسمان سترگې اوس هم پرتې وي.
ښار ته به ښايي دا هم نه وي معلومه چې د ده پر باران مين يو سړی اوس زرگونه ميله ليرې د بل چا تر برنډې لاندې ولاړ دئ.
د شپې چې کور ته ورسېدی، لانده کالي ئې بدل کړل، کړکی ئې خلاصه کړه. باران ته په کتو سو.

د موټرانو په څراغونو کې باران د رڼاوو په وړو وړو ټوټو اوښتی وو، په زرگونو غمې به يوه شېبه ځلېدل، بيا به په تياره کې پر تور سړک ورکېدل، لکه د انسان د ژوند شېبې .

په دې پردي ښار کې اوبه له اسمانه را اورېدې، خو باران زرگونه ميله ليرې، پر يوه زاړه ښار اورېدی.

محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ